پوهاند م. بشیر دودیال ۲۰۱۸/۱۰/۲۱

# افغانستان او ۶۰ کاله پرله پسې اقتصادی جګړه

د سړې جګړې له پایته رسیدو سره سم، دنیاوالو نړۍ یو قطبی وبلله. لس کاله لا نه و تیر چې د نړۍ د څو قطبي کیدو نښې څرګندې شوې، البته دا ځل یې تر سیاسی او نظامی اړخ څخه اقتصادی اړخ جوت و. دې سره سم د ایرو - اشیا نومونه په ژبو کرځیده. ددې معنا دا وه چې نور نو د اروپا او آسیا وار دی، په تیره بیا آسیا (اقلاً آسیا کې یو - څو هیوادونه) دا ظرفیت لري چې اروپاسره تعلقات (تر ټولو زیات اقتصادی تعلقات) پیاوړي کړي. ډیر ژر ولیدل شول چې د چین او هندوستان اقتصاد د ګړندی ودې په حال کې دی. د شانګهای د سازمان جوړیدو ثابته کړه چې یو څو اسیایی هیوادونه دا استعداد لري چې د نویو اقتصادی ځواکونو په توګه راڅرګند شي. د نړۍ لوی اقتصاد چې د یو قطبی شوی نړۍ یواځنی سوپرپاور بلل کیده، دا وضعیت تحمل نه کړ. نوی مخامختیا په پوره معنا اقتصادی اړخ درلود چې اقتصادی تحریمونه (بندیزونه) ورسره مل و. په ایران، روسیه او چین اقتصادی بندیزونه ولګیدل او هند ته د اقتصادی بندیز ګواښ وشو. روسیه بیرته د (G۸ ) له ډلې څخه وایستل شوه او ورپسې د چین په صادراتو تعرفه لوړه شوه، د دغو تدابیرو یوه برخه آن آلمان او ترکیې ته متوجه شوه. آن دا چې یوه میاشت مخکې د المان صدراعظمې انګلا مرکل په واضح الفاظو د (economic war) کلمه یاده کړه او درې - څلور ورځې مخکې د امریکې ولسمشر وویل: هیڅوک د اروپایی اتحادیې په اندازه زموږ مخالف ندی !! او په دې ټول پوهیږو چې د اروپایی اتحادیې د جوړیدو یو مقصد اقتصادی پیوستون، واحده کرنسی(پولي واحد) لرل او تجارتی مسایل دي.

په افغانستان کې له دې پیښو څخه خلک داسې تصور لري چې نړۍ یوځل بیا د شخړو خواته ځي. هو! بیخی سم تصور دی. له بده مرغه پورتنیو مثالونو کې د اقتصادی جاسوسی، اقتصادی بندیز او اقتصادی جګړې نښې شته. کاشکې داسې نه وای. سوال دا دی چې ایا افغانستان چې تر ټولو زیات جګړه ځپلی دی، د نظامی جګړې ترڅنګ اقتصادی جګړې سره مخامخ شوی؟ له بده مرغه چې ځواب هو دی.

له دې مقالې څخه موخه دا ده چې که چیرې موږ غواړو چې سولې ته ورسیږو، ملی بحران پای ومومي او نسبي ثبات راولو، نو د نظامی حل او ځمکنی بشپړتیا(ارضی تمامیت) د تامین او تضمین ترڅنګ باید اقتصادی اتکا او له هرډول اقتصادی او فرهنګی یرغل څخه هم ډاډمن شو، حال داچې زموږ د مبصرینو، لیکوالو، مدني فعالانو او آن د

سیاسی شنونکو په خبرو کې د روان بحران اقتصادی اړخ او اقتصادی لاسوهنو ته اشاره نه کیږی. ملی شعور دا ټول مسایل رانغاړی او په هغو باندې سوچ کوي.

په دغي مقالې کي اقتصادی پیچلی اصطلاحات ندی کارول شوی او نه هم مسایل د اقتصاد او ارقامو په استناد ارائه کوو، بلکي موخه مو په ساده ژبه دې برخي ته د افکارو را اړول دي.

ډیر کلونه کیږی چی افغانستان له اقتصادی جاسوسی او اقتصادي جګړې سره مخامخ او موږ تر اوسه د دې لپاره کوم تدابیرنه لرو. ډیره به ښه وي چې ځوان نسل په دې برخه کې خپل معلومات پوره کړي. د وضاحت لپاره به لږ شاته ولاړ شو او تاریخی پس منظر به ډیر لنډ د سریزی پرځای او د مدخل په توګه روښانه کړو:

کله چې میرویس نیکه د معاصر افغانستان نقشه په ۱۷۰۹م. کال کې برابره کړه، نو د سیاسی او نظامی استحکام ترڅنګ یې اقتصادی اړخونه هم وسنجول. میرویس خان یو مدنی شخص او د لوړ بصیرت خاوند و. هغه په تجارت پوه او له نژدې ختیځ څخه نیولی تر منځني ختیځ پورې یې ډیر هیوادونه لیدلي وو. نوموړي د نوي افغانستان اقتصاد ته د اتو کلونو په ترڅ کې سمون ورکړ. له هوتکیانو وروسته، اعلیحضرت احمد شاه بابا د میرویس دمفکورې پر بنسټ د نوی افغانستان په نقشه عملی کار پیل کړ. په دې لړ کې یې اقتصادی مسایلو ته هم پاملرنه وکړه او لومړنی مستوفی الممالک(دمالیې وزیر) یې مقرر او د افغانستان ټولو ایالتونو (ډیلی او کشمیر، ترکستان، بلوچستان، اصفهان ...) کې یې د مالیې نوی اصول وضع او مستوفیان یې په خپله د آزمونیې له اخیستو وروسته مقررول. له بده مرغه د ده اولادونو دافغانستان پرتمینه امپراطوری او پیاوړی کیدونکي اقتصادي وده ونسوه ساتلای او د افغانستان د لوی دښمن (انګریزاو رنجیت سنګه) لومړی اقدامات هم اقتصادی جنګونه وو. کله چې د هند نیمه وچه کې انګریزی استعمار واکمن شو، څوځله یې د کراچی بندر څخه د مال په راوړلو بندیزونه ولګول، په تیره بیا امیر شیر علیخان ته یې لویې ستونزی پیدا کړې. افغانستان له خپلواکۍ ګټلو ورسته هم د انګریز اقتصادی جګړې سره مخامخ شو. هغه مهال چې غازی امان الله خان له اروپا(خصوصاً جرمني) څخه د افغانستان د عصری کولو لپاره فابریکې او ماشینونه راوړل، انګریزانو د هغو په وړاندې لارې بندې کړی. کله چې انګریزان له سیمې ووتل او د هند او افغانستان له ټوټه کولو یې یوه مصنوعی جغرافیه جوړه کړه، د افغانستان تجارتی لار او سوداګری له سمندر(نړیوالو اوبو) سره پرې شوه. له همدې نیټې وروسته افغانستان له دې سیمې څو څو ځله اقتصادی فشارونو او آن اقتصادی جګړې سره مخامخ شوی دی. په پیل کې دغې جګړې د (economic spying) بنه درلوده. په اقتصاد او سیاست کې دې ته اقتصادی جاسوسی هم ویل کیدای شی . دا هغه وضعیت دی چې یو هیواد د بل د اقتصادی عمران او تاسیساتو په ضد کار اخلي، یا هم اقتصادی معلومات په ناقانونه توګه ترلاسه او تبلیغات کوي. شپیته کاله مخکې، دپاچا پرمهال د سپین زر غوړیو د تولیداتو د بدنامولو په خاطر د قو د غوړیو د تجارو ناوړه چلند، د ننګرهار دپروژې په ضد د(رادیو صدای دوست) تبلیغات، د شاکر او دې ته ورته ملی تولیداتو څخه معلومات او بیرته د هغو په وړاندې د هغو ناوړه استفاده یې ابتدایی مثالونه دی. وروسته بیا د هیواد د لومړنی جمهوری نظام په دوهم کال(۱۳۵۴) کې د ناامنیو او نظامی لاسوهنو ترڅنګ د قیمتی ډبرو، په تیره بیا د پنجشیر د کانونو ناقانونه لوټل یې ورپسې نور ګامونه وو. دې پسې وروسته نورو بیلابیلو دورو کې دجعلی بانکنوټونو چاپ او ویش، ډمپنګ، دزیربنایی پروژو تخریب، د مخالفینومادي تطمیع او په هغو دتخربی عملیاتوتر سره کول، د خپل منځي جګړو په واسطه د فابریکو تالان، د تولیدی سرچینو تخریب (لکه د معدنچیانو وژل، د انګورو د باغونو سوځول او د پستو د ځنګلونو تباهی)، دتاریخی آثارو

لوټ، تخريب او د ګرځندوی د ساحاتو تباه کول، د فنی متخصصینو ترور، په حساس وختونو کې په بیلابیلو بهانو د بندرونو تړل ( ېنځه کاله مخکی دژمی پرمهال په ناځاپي توګه داسلام کلا له بندر هاخوا د تیلو د ټانکرونو درول یې یو مثال دی)، دصنعتی پروسې لپاره د خامو موادو په واردلو کې ستونزې جوړول، د افغانی ځانګړي محصول د تولید او صادرولو پرمهال دهغو صدرو ته ستونزې جوړول (درې کاله مخکې د مڼو د صادرولو پرمهال بندر کې د زرګونه ټنو مڼو بندول او دهغو مکمل ضایع کیدل یې یو بل مثال دی)، په تجارتی بندر کې د افغانی سوادګرو اذیت او د بروکراسی ستونزی، د یوې میاشتې لپاره د سوداګرو د مالونو ځنډدول، ...یې نور مثالونه وو. کله چې د افغانستان د بیارغاونې په خاطر ملی پرمختیایی ستراتیژي جوړه شوه، دناامنیو له زیاتیدوسره یو ځای د اقتصادی جګړې بڼه نوره هم جوته شوه. نو اقتصادی جګړه څه ده؟

اقتصادي جګړه یا Economic warfareهغه ویجاړوونکی اقدامات او اعمال دي چې د یوه هېواد اقتصادي منابع ویجاړ کړی، د جګړې پرمهال د مقابل لوري پرضد داسې اقتصادي فعالیتونو ترسره کول چې مقابل لوري له پرېشانې او وارخطایی سره مخامخ کړي، لکه د خوراکي توکیو د لېږدولو مخنیوی، ښارونو ته له کلیو څخه د خوراکی کرنیزومحصولاتو د ورتګ مخنیوی، د اکمالاتي کتاروونوسوځول، د فابریکو شنډول، د اقتصادي تاسیساتو ویجاړول، دبریښنا د مزو پرې کول، د اوبوبندول، خوراکی توکی ضایع کول، د قحطی او قیمتی لپاره ناوړه تبلیغات،د اقتصاد په ډګر کې د مهارتونو له منځه وړل، د متخصص کادر فلج کول، دکاری وخت دضیاع لپاره راز راز ستونزې جوړول او نور ډول ډول اشکال هریو اقتصادي جګړه ده. په افغانستان کې د دې ناولی جګړې ترڅنګ کورنی اقتصادی مافیا، قاچاقچیانو، پیسومینځونکو او مالی فساد نور هم د هیواد اقتصاد ته زیان واړاو چې اثرات یې په نظامی ډګر کې هم له ورایه څرګند شول. په داسې وضعیت کې که دجګړې د ډګر اتلان څومره سربښندنه کوي، د پایداره ثبات راوستل، د امنیت بشپړ ټینګول، پربحران غلبه او دملی حاکمیت استوار ساتل یې په وس نه وی پوره. همدا مهال دی چې د نظامی برې ترڅنګ باید اقتصادی لوری هم را ټینګ شي، کوم چې موږ ورته پام ندی کړی.

خو دا خبره باید هیره نشی چې اقتصادی بندیزونه بالکل جلا موضوع ده. په افغانستان اقتصادی بندیزونه ندی لګول شوی. د مقالې په پیل کې اقتصادی بندیزونوڅخه ځکه یادونه وشوه چې د نړی د اقتصادی ځیرې یو انځور ولرو. نو سوال دادی چې اقتصادی بندیزونه څه دی؟

اقتصادي بندیز (Economic sanction ) هغه اقدام او وسیله ده ، چې موخه ورڅخه د ناوړه چلند، له نړیوالو اصولو دتیری، دنړیوالو کنوانسیونونونه منلواو نورو له امله د یوه هېواد تر فشار لاندې راوستل ، دیوې ټولنې یا هېواد اقتصاد ته زیان رسول اویا هم دیوه هېواد اړ ایستل تر څو یو شمېر شرایط ومني. د بېلګې په توګه له یوه هېواد سره د سوداګری مخنیوی، د یوه هېواد د صادراتو بندول او د هغه کورنیو محصولاتو ته په بهرکې د پلورلو مخه نیول ، په بانکي فعالیتونو کې ستونزې ولاړول او داسې نور ، په اوسني وخت کې د امریکې او یو شمېر لویدیزو هېوادونو له خوا په ایران باندې لګېدلي اقصتادي بندیز د دې یوه ښه بېلګه ده . ځینی وخت آن د ملګرو ملتونو نړیوالی اداری د یوه هیواد په وړاندې اقتصادی بندیزونه وضع او یا یې د دغو بندیزونو حمایه کړې ده. الله الحمد افغانستان تل د خپل اصولی دریځ له مخې به بندیزونو سره ندی مخامخ شوی. په دې برخه کې افغانستان د نړیوالې ټولنې، دملګرو ملتونواو د هغې اړونده موسساتو او په عامه جهانی ذهنیت کې یو دروند، سوله خوښوونکی، او د ټولو نړیوالو آدابو

رعایت کوونکی هیواد پیژندل شوی دی. دا چې ۴۳کلنو تپل شویو جګړو ورته کورنی ستونزې، بیوزلی، ضعیف حاکمیت، بی اتفاقی، دعلم له کاروان څخه وروسته پاتیوالی په برخه کړ، اود شر او فساد ډګر یې ګرځولی، د نظامی حل لارو په موندلو سره دا ستونزې هم له منځه ځي، خو بیا هم شرط دا دی چې هیواد کې د نظامی سولې د راوستو ترڅنګ له  اقتصادی جګړې هم ځان و ژغورو.  پرته د اقتصاد له ښه کیدو د سیاسی، کلتوری، ... استقلال خبره نشی کیدای.

د افغانستان  د اقتصادی وضعیت ټیکاو سره د نړی د اقتصادی انځور کتنه، د شاوخوا هیوادو د اقتصادی حالت او منطقوی  اقتصادی معلوماتو تحلیل مرسته کوی. همدغه ټکی د دې لیکنی موخه وه چې له نظامی حللارې سره یو ځای یې باید هیر نه کړو. کله چې افغانستان د سولې خبرې پیل کوي، باید د نظامی مداخلو د مخنیوی ترڅنګ، داقتصادی جګړې مخنیوی هم د خبرو په آجندا کې شامل کړي، یعني که د سناریو یوه برخه نظامی حللاره وی، نیمه نوره باید اقتصادی ژغورنه او ثبات وي.

پای